# رَمَضَانُ الْمُبَارَک

# دخپلې اِصلاح میاشت ده

**07-March-2024**

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)



په 7 مارچ کال 2024ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# رَمَضَانُ الْمُبَارَك د خپلې اِصلاح مياشت ده

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشت ليدو دُعا
- ...تقوىٰ د هرې نيکۍ اصل دے
- ... د روژې په برکت يــې توبه نصيب شوه
- ... د روژې په مياشت کښې د ګناه وبال
- ... د ګناهونو نه د بچ کيدو فائدې

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د وړومبۍ شپې وظيفه

امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: کوم بنده چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په وړومبۍ شپه دوه رکعته نـمونځ اوکړي او په هر رکعت کښې د سورۀ فاتحه نه پس يو ځل سورۀ فتح اولولي او د سلام ګرځولو نه پس 10 ګَرَته سورۀ قدر اولولي، بيا په رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې 10 ګَرَته درودِ پاک اولولي نو هغه ته به د مرګ نه مخکښې په 2 کښې يو فضيلت نصيب کيږي: **(1):** يا خو به هغه ته په خوب کښې د **الله** پاک د ديدار شرف نصيب کيږي **(2):** او يا به شبِ قدر حاصل کړي. [1]

نامِ حضرت پہ لاکھ بار دُرود | بے عَدد اور بے شُمار دُرود
ہم کو پڑھنا خدا نصیب کرے | دَم بدَم اور بار بار دُرود [2]

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

1... سُلْوَةُ الْعَارِفِين، باب فضيلة الصيام، جلد: 1، صفحہ: 263۔

2... کافی کی نعت، صفحہ: 38۔

## د بيان اوريدلو نيتونه

په **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے. [1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي. راځئ! د بيان اوريدو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ❀ د **الله** پاک د رضا د پاره به تول بيان اورم ❀ په اَدب به کښينم ❀ ښه په توجُّه به بيان اورم ❀ څه چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د رمضان مياشت راتلونکې ده

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د رمضان مياشت راتلونکې ده...!! سُبْحٰنَ الله! د غُفران (يعنې د بخښنې) مياشت، د رحمان مياشت، عظيمُ الشانه مياشت تشريف راوړو والا ده.

| | |
|---|---|
| مرحبا صد مرحبا! پھر آمدِ رَمضَان ہے | کھل اٹھے مُرجھائے دل تازہ ہوا اِیمان ہے |
| یاخدا ہم عاصیوں پر یہ بڑا اِحسان ہے | زندگی میں پھر عطا ہم کو کیا رَمضَان ہے |
| تجھ پہ صدقے جاؤں رَمضاں! تُو عظیم الشّان ہے | تجھ میں نازِل حق تعالیٰ نے کیا قراٰن ہے |
| آگیا رَمضاں عبادت پر کمر اب باندھ لو | فیض لے لو جلد یہ دن تیس کا مہمان ہے (2) |

## د روژې د مياشتې مختصر فضيلتونه

آيا تاسو ته معلومه ده چې رَمَضَانُ الْمُبَارَك څومره عظيمه مياشت ده...؟ آؤ جي! ❀ هٰغه

1...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:705۔

مياشت تشريف راوړونکې ده، کومې ته چې په **حديثِ پاک** کښې سَيِّدُ الشُّهُور (د ټولو مياشتو سرداره) وئيلے شوې ده. [(1)] ❁هغه مبارکه مياشت راتلونکې ده چې د هغې د وړومبۍ شپې نه به د آسمانونو دروازې برسيره کړے شي، بيا به د آخرۍ شپې پورې نه بنديږي ❁په دې مياشت کښې چې [څوک] يوه سجده اوکړي نو [د هغه د پاره] 1500 نيکۍ ليکلے کيږي او [د هغه د پاره] په جنّت کښې د سرو ياقوتو کور جوړولے شي ❁څوک چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك وړومبۍ روژه اونيسي، د هغه تير ګناهونه معاف کړے شي ❁د سحر نه تر ماښامه پورې 70 زره فرښتې د هغه د پاره د بخښنې دُعا کوي [(2)] ❁هغه مياشت راتلونکې ده، په کومه کښې چې به د نفلو ثواب د فرض برابر او د فرض ثواب 70 چنده زياتولے شي [(3)] ❁د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په وړومبۍ شپه **الله** پاک دې اُمَّت ته د رحمت نظر فرمائي او چا ته چې **الله** پاک د رحمت نظر اوفرمائي، هغه له به چرې هم عذاب نه ورکوي [(4)] ❁په دې مبارکه مياشت کښې به بخښنه کيږي، هره ورځ به د روژه ماتي په وخت لس لاکهه ګنهګاران بخښلے کيږي او چې کله په دې مبارکه مياشت کښې د جُمعې ورځ تشريف راوړي، بيا خو به ډيرې مزې شي، د **حديثِ پاک** مطابق په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ (يعنې د زيارت په ورځ د نمر پريوتو نه تر د جُمعې د ورځې نمر پريوتو پورې) په هر يو سعت کښې لس، لس لاکهه ګسان بخښلے کيږي او **دا ټول بخښونکي ګسان به هغه وي په کومو باندې چې دوزخ واجب شوے وي.** [(5)]

---

[1] ...مصنف عبد الرزاق، کِتَاب الصيام، باب فضل الصيام، جلد:4، صفحه:238، حديث:7924۔

[2] ...شُعَبُ الْاِيْمَان، باب في الصيام، جلد:3، صفحه:314، حديث:3635 ملتقطًا۔

[3] ... صحيح ابن خزيمه، کتاب الصيام، باب فضائل شهر رمضان ان صح الخبر، صفحه:438، حديث:1887۔

[4] ...شُعَبُ الْاِيْمَان، باب في الصيام، جلد:3، صفحه:303، حديث:3603۔

[5] ...مسند الفردوس، جلد:3، صفحه:320، حديث:4960۔

کاش چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د بخښنې خيرات حاصلوونکو خوش قِسمتو کښې زمونږه نوم هم شامل شي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| گھر پر ہمارے رب کا مہمان آ گیا ہے | مولیٰ سے بخشوانے رَمضان آ گیا ہے |
| رَحمت کے دَر کُھلے ہیں، شام و سَحر کُھلے ہیں | قُربِ خدا کا لے کے سامان آ گیا ہے |
| ہرسُو خدا کی رَحمت، رَمضان کی ہے برکت | اس ماہ میں تصدّق! قرآن آ گیا ہے |

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## ډيره عجيبه فرښته او دوه صندوقان

د مِعراج شريف په روايتونو کښې دي: مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سدرةُالمنتهىٰ په خوا کښې يوه فرښته اوليدله، هغوئي فرمائي: لَمْ اَرَ مِثْلَهٗ يعني داسې عجيبه فرښته ما چرې هم نه وه ليدلې، هغې به چې کله تسبيح کوله نو د هغې په ښکلي آواز باندې به عرش هم خوزيدلو، ما د جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام نه پوښتنه اوکړه: اَىُّ خَلْقٍ هٰذَا يعني اے جبريله! دا کوم مخلوق دے؟ عرض يې اوکړو: دا يوه فرښته ده کومه چې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه دوه زره کاله مخکښې پيدا کړے شوې وه، ما پوښتنه اوکړه: د دې نه مخکښې دا چرته وه؟ عرض يې اوکړو: **الله** پاک د عرش نه لاندې په جنّت کښې يو ځائے جوړ کړے دے، دا به هلته وه، نن ستاسو د ديدار د پاره دلته حاضره شوې ده. رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ما هغه فرښتې ته سلام اوکړو خو هغه د **الله** پاک په تسبيح کښې مشغوله وه، سلام يې وا نوريدو. بيا جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام هغه ته اووئيل: هٰذَا مُحَمَّد يعني دا محبوبِ خُدا، حضرت مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے. چې کله هغې دا واوريدل نو د خوشحالئ نه يې خپلې دوه شنې وَزَرې خورې کړې، دا دومره لوئې وَزَرې وې چې آسمان او زمکه يې پټ کړل. بيا هغه زما سره د غاړې ميلاوهلو سعادت حاصل کړو او په اَدَب يې ښکل هم کړم. عرض يې

اوکړو: يا رسولَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! **ستاسو د پاره زيرے دے چې الله پاک د روژې د مياشتې په برکت ستاسو اُمَّت بخښلے دے.** (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نور اوفرمائيل: د هغه فرښتې مخې ته دوه صندوقان کيښودے شوي وو، کومو ته چې په زرګونو تالې لګولے شوې وې. ما پوښتنه اوکړه: په دې صندوقانو کښې څه دي؟ هغې فرښتې عرض اوکړو: **په دې صندوقانو کښې ستاسو د اُمَّت د روژه نيوونکو د پاره د دوزخ نه د آزادئ پروانې [يعني فرمانونه] دي.** (2)

| | |
|---|---|
| عاصیوں کی مغفرت کا لے کر آیا ہے پیام | جھوم جاؤ مجرمو! رَمضاں مہِ غفران ہے |
| بھائیو بہنو! کرو سب نیکیوں پر نیکیاں | پڑ گئے دوزخ پہ تالے قید میں شیطان ہے(3) |

## د رمضان د راتللو زيرې

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! څومره ښکلے شان دے د روژې د مياشت...!! او په دې مبارکه مياشت کښې د روژه نيوونکو هم څومره ښکلے شان دے...!! د صحابئ رسول حضرت اَنس بن مالک رَضِیَ اللهُ عَنْه نه روايت دے، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: که **الله** پاک زمکې او آسمان ته د خبرو کولو اجازت عطا کړي نو د رَمَضَانُ الْمُبَارَك روژه نيوونکو ته به د جنّت زيرے ورکړي. (4)

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشت ليدلو دُعا

سُبْحٰنَ الله! **الله** پاک دې مونږ ته د دې قدر کول نصيب کړي. ❀دا ښکلې ښکلې ❀ د

---

1...سُلْوَةُ الْعَارِفِين، باب فضيلة الصيام، جلد:1، صفحہ:267ملتقطاً۔

2...سُلْوَةُ الْعَارِفِين، باب فضيلة الصيام، جلد:1، صفحہ:268ملتقطاً۔

3...وسائلِ بخشش، صفحہ:706۔

4...تاريخ مدينہ دمشق، جلد:73، صفحہ:267-

رحمتونو والا ❁ عظمتونو والا ❁ بخښنې والا مياشت تشريف راوړونکې ده. ❁ډېرې ډېرې خوشحالئ اوکړئ! ❁ چې کله دا بختوره مياشت تشريف راوړي نو [يو بل ته] مبارکي ورکړئ! ❁ د رمضان مياشت ته پوره هر کلے وايئ! ❁ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به دې ته پوره هر کلے وئيلو، چې کله به مياشت اوليدے شوه نو د قبلې په لور به يـې مخ کړو او داسې دُعا به يـې کوله:

اَللّٰهُمَّ اَهِلَّهٗ عَلَيْنَا بِالْاَمْنِ وَالْاَمَانَةِ وَالسَّلَامَةِ وَالْعَافِيَةِ الْمُجَلِّلَةِ وَدِفَاعِ الْاَسْقَامِ وَالْعَوْنِ عَلَى الصَّلَاةِ وَالصِّيَامِ وَالْقِيَامِ وَتِلَاوَةِ الْقُرْآنِ، اَللّٰهُمَّ سَلِّمْنَا لِرَمَضَانَ وَسَلِّمْهُ مِنَّا حَتّٰى يَنْقَضِيَ وَقَدْ غَفَرْتَ لَنَا وَرَحِمْتَنَا وَعَفَوْتَ عَنَّا

ترجَمه: اے **الله**! دا مياشت په مونږ باندې د اَمن و اَمان، سلامتيا، مکمل عافيت او د بيمارو نه د حفاظت ذريعه جوړه کړې او د نـمونځ، روژې، عبادت او د قرآن په تلاوت د مدد سبب يـې جوړه کړې. اے رَبّ کريمه! مونږ ته د رمضان په وجه سلامتيا عطا کړې يعنې دا زمونږ د پاره د سلامتيا والا جوړه کړې او دې ته زمونږ نه سلامتيا عطا کړې تر دې چې کله دا رُخصت شي نو ستا بخښنه او رحمت او معافي زمونږه يقيني مقدر جوړ شوي وي. (1)

## کاش چې مونږ رمضان ته اورسو

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيْم! زمونږه بخت هم رابيداريدونکے دے، يو څو ورځې پس به د رمضان مياشت ښکاره شي. که **الله** پاک اوغوښتل نو مونږ به دا کال هم د روژې د مياشتې د مقدسو ساعتونو د ليدلو او د روژې د مياشتې په برکتي ساعتونو کښې د ساه کانو اختسو سعادت حاصلوو. **الله** پاک دې زمونږه دا سعادت

---

1 ... کَنْزُ الْعُمَّال، کتاب الصوم، فصل فی فضله وفضل رَمَضَان، جلد4، جز:8، صفحه:270، حديث:24286۔

نصيب کړي، **الله** دې اوکړي چې مونږ په خير او عافيت سره ❀ د سبحان مياشتې ❀ د قرآن د نازليدو مياشتې ❀ ښکلې ښکلې مياشتې ❀ د رمضان مياشتې ته په رسيدو کښې کامياب شو. چې کله د رمضان مياشت تشريف راوړي نو هغې ته ښه هر کلے هم اووايئ! ❀ د ماښام نـمونځ په جومات کښې د جَمعې سره ادا کړئ! ❀ زيات بهتر به وي چې د اَوَّابينو نفلونه هم اوکړئ! ❀ د روژې د مياشتې د ليدلو کوشش هم اوکړئ! او چې مياشت اووينئ نو که کيدے شي نو هغه دُعا هم اولولئ کومه چې به زمونږه آقا صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لوستله اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ډير برکتونه به مو نصيب شي.

## يو اَهَم وضاحت

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** رَمَضَانُ الْمُبَارَك يقيناً چې د ډيرو برکتونو والا مياشت ده، د دې مياشتې د راتلو زيري ورکول، خلقو له مبارکي ورکول هم ښه کار دے، په دې نيک کار باندې د ثواب ميلاويدو اميد هم کولے شي، دا هم کيدے شي چې که مونږ د روژې په راتللو خوشحالي اوکړو نو د **الله** پاک رحمت په جوش کښې راشي او هم د دې يوې نيکۍ په برکت مونږ د جنّت حقداران جوړ شو. البته! دلته لږ د احتياط ضرورت دے. دلته چې رَمَضَانُ الْمُبَارَك تشريف راوړي يا ربيع الاول شريف تشريف راوړي نو عموماً يو ميسج په سوشل ميډيا باندې خوريږي، په کوم کښې چې ليکلے شوي وي: **په حديثِ پاک کښې دي چې چا د ټولو نه مخکښې د روژې د مياشتې د راتلو مبارکي ورکړه، د هغه د پاره جنّت واجب شي.**

داسې يو حديث هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه ثابت نه دے. نه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په باره کښې، نه د يوې بَلې مياشتې په باره کښې.... لهٰذا د داسې دروغو ميسجونو د وړاندې ليږلو نه ځان ساتئ او څوک چې تاسو ته داسې ميسج راوليږي، هغه ته په مينه او محبت سره، په حکمتِ عملۍ سره د نيکۍ دعوت هم ضرور ورکړئ! بلکې که کيدے شي نو د داسې خبرو پوره مخنيوے پکار دے. **په حديثِ پاک**

کښې دي: زمونږه نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنۡ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلۡيَتَبَوَّأۡ مَقۡعَدَهٗ مِنَ النَّار چا چې په ما پورې قصداً عمداً دروغ اوتړل (مثلاً حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څه خبره نه وه فرمائيلې او اوئې وئيل چې دا د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حديث دے) نو داسې بنده دې خپل ځائے په دوزخ کښې جوړ کړي. (1)

اَللّٰهُ اَكۡبَر! **الله** پاک دې مونږ ته د احتياط کولو توفيق راکړي او خصوصاً په دِين کښې د بے اِحتياطئ نه دې مونږ محفوظ اوساتي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيۡن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

| | |
|---|---|
| عَجِّلْ عَجِّلْ یَا رَمضَان | جان مِری تجھ پر قربان |
| آ بھی جا ماہِ سُبۡحٰن | جلدی جلدی آ رَمضَان |
| جب بھی آتا ہے رَمضَان | جان میں آجاتی ہے جان |
| خوب ہے رمضاں کی بھی شان | اِس میں اُترا ہے قرآن |
| مجھ کو مدینے میں رَمضَان | کاش! میسر ہو رحمٰن |
| آجا آ بھی جا رَمضَان | تجھ پہ فِدا عطّاؔر کی جان |

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## رَمَضَانُ الۡمُبَارَك د خپلې اِصلاح مياشت ده

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا خبره هميشه ياد ساتئ! د رمضان مياشت د خپلې اِصلاح مياشت ده، د خپل ظاهر او باطن د پاکولو مياشت ده. **الله** پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا كُتِبَ عَلَيۡكُمُ الصِّيَامُ |[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ الۡعِرفان: اے ايمان والؤ په تاسو

1...بخاری، کتاب العلم، باب اثم من کذب علی النبی، صفحہ:103، حدیث:110۔

| | |
|---|---|
| كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۳﴾ (پاره:2، البقره:183) | روژې فرض کړے شوې څنګه چې تاسو نه مخکښې خلقو باندې فرض کړے شوې وې چې تاسو پرهيزګاره جوړ شئ. |

په دې آيت مبارک کښې چې د روژې کوم اهم ترين حکمت او ډيره غټه فائده اوښودلے شوه، هغه دا ده:

| | |
|---|---|
| لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۳﴾ (پاره:2، البقره:183) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ الْعِرفان: چې تاسو پرهيزګاره جوړ شئ. |

يعنې اے مسلمانانو! په تاسو باندې روژې فرض کړے شوې، تاسو په دې باندې عمل کوئ (يعنې په پابندئ سره روژې نيسئ) د پاره د دې چې ستاسو تقوىٰ او پرهيزګاري نصيب شي. (1)

معلومه شوه چې د رمضان مياشت هغه مبارکه مياشت ده، په کومه کښې چې روژې نيولے شي او د دې روژو په برکت زمونږه تقوىٰ نصيب کيږي.

## تقوىٰ د هر خير اَصل دے

تقوىٰ ډير لوئي دولت دے. د حضرت ابو سعيد خدري رضی اللہ عنہ نه روايت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم، شفيعِ مُعَظَّم صلی اللہ علیہ والہ وسلم يو صحابي رضی اللہ عنہ ته نصيحت کولو کښې اوفرمائيل: عَلَيْكَ بِتَقْوَى اللهِ فَاِنَّهُ جِمَاعُ كُلِّ خَيْرٍ په تا باندې تقوىٰ لازمي ده چې بے شکه تقوىٰ د ټولو خيرونو مجموعه ده. (2)

حُجَّةُ الاِسلَام حضرت امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: اے عزيزه! تا له په دې ځان پوهه کول پکار دي چې تقوىٰ يوه نايابه خزانه ده، که تهٔ د دې

---

1...تفسير نعيمی، پاره:2، سورۂ بقره، زيرِ آيت:183، جلد:2، صفحه:212 بتغير قليل۔
2...مسند ابی يعلى، جلد:1، صفحه:324، حديث:1001 ملتقطاً۔

خزانې په حاصلولو کښې کامياب شوې نو تهٔ به ډيره لويه کاميابي حاصله کړې، داسې اوګڼه چې د دُنيا او آخرت ټول خيرونه په تقوىٰ کښې راجمع کړے شوي دي. (1)

اوګورئ! څومره لوئي فضيلت دے...!! د دُنيا او د آخرت ټول خيرونه په تقوىٰ کښې راجمع کړے شوي دي او روژه هغه عبادت دے د کومې په برکت چې تقوىٰ نصيب کيږي. په نورو لفظونو کښې داسې اووايئ چې روژه هغه اعلىٰ ترين عبادت دے، د کومې په برکت چې بنده د دُنيا او آخرت د ټولو خيرونو موندو قابل شي.

| | |
|---|---|
| دے حُسنِ اَخلاق کی دولت | کر دے عطا اِخلاص کی نعمت |
| مجھ کو خزانہ دے تقویٰ کا | یا اللہ! مِری جھولی بھر دے (2) |

## په جنّت کښې کور ميلاو شو

يوه نيک بزرګ وو، هغه به اکثر تَهَجُّد کول او روژې به يې هم په کثرت سره نيولې، يو ځل هغه په جومات کښې نـمونځ اوکړو، بيا يې دُعا کوله او ناست وو چې سترګې يې ورغلې، هغه په خوب کښې اوليدل چې يوه ډله د هغوئي خوا له راغله، هغه انسانان نه وو، د هغوئي په لاسونو کښې غټ غټ تالي وو، په هر يو تالي کښې ډوډۍ کيښودے شوې وې او د هرې ډوډۍ د پاسه د انار په شان يوه ملغلره کيښوے شوې وه، هغه ډلې هغوئي ته اووئيل: اوخورئ! هغه اووئيل: زه خو روژه نيول غواړم (يعنې پيشمنے مې کړے دے، روژه نيسم، لهٰذا اوس به هيڅ هم نه خورم). هغوئي اووئيل: د دې کور (يعنې جومات مالِک) فرمائي: اوخورئ! هغه بزرګ فرمائي: ما ډوډۍ اوخوړله. هغه ملغلره کومه چې د ډوډۍ د پاسه کيښودے شوې وه، هغه مې چې اوچتوله نو اووئيلے شول: دا هم دلته

---

1 ...منہاج العابدین، صفحہ:148 ملتقطاً۔
2 ...وسائلِ بخشش، صفحہ:123۔

پرېږدئ! مونږ به دا ښخه کړو [يعني اوګرُو]، د دې نه به يوه وَنه را اوټوکيږي او هغه وَنه به د دې نه هم ښې او بهترينې ملغلرې نيسي. ما پوښتنه اوکړه: دا به چرته نالوئ! اوئې وئيل: په داسې ځائے کښې کوم چې چرې هم نه خرابيږي، په داسې ملک کښې کوم چې چرې هم نه فنا کيږي (يعني ستاسو د نوم دا وَنه به په جنّت کښې نالولے شي).

د دې نه پس هغه بزرګ رابيدار شو. هغه خپلو دوستانو ته دا خوب بيان کړو، د هغې نه پس دوه هفتې ژوندے وو، بيا وفات شو. په کومه شپه چې هغه وفات شو نو يو دوست هغه په خوب کښې اوليدو، فرمائيل يې: **هغه وَنه کومه چې په هغه شپه زما د پاره ناله کړے شوې وه، اوس يې ميوه نيولې ده.** دوست ترينه پوښتنه اوکړه: هغې کومه ميوه نيولې ده؟ اوئې وئيل: **پوښتنه مه کوه! داسې ميوې دي چې د هغې صفتونه نشي بيانيدے.** [1]

## روژه نوے ژوند ورکوي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! صوفيائے کرامو چې د رمضان د مياشتې او د روژې کوم تفصيل بيان کړے دے، د هغې مطابق يې د رمضان مياشت **نشاةِ ثانيه** (يعني د نوي ژوند موندو) مياشت ګرځولې ده. شايد چې تاسو په اوريدو حيران شئ چې د صوفيائے کرامو مطابق انسان دوه ځله پيدا کيږي، **وړومبے پيدائش** خو هغه دے کوم چې عام مشهور دے، [يعني] چې کله مونږ دې دُنيا ته راځو. د **دويم پيدائش** نه مُراد د زړۀ پاکوالے دے يعني چې کله بنده خپل زړۀ د ❀ ګناهونو نه ❀ باطني بيمارو نه ❀حرص ❀ لالچ ❀ هَوَس ❀ د دُنيا د محبت ❀ تڪبّر ❀ ځان خوښئ وغيره نه پاک کړي، دې ته د انسان **نشاةِ ثانيه** (يعني دويم پيدائش) وئيلے شي. [2]

---

1... لطائف المعارف، وظائف شهرِ رَمضان المعظم، المجلس الاول فی فضل الصيام، صفحه:219 ملتقطًا۔

2... تفسير روح البيان، پاره:2، سورۀ بقره، زيرِ آيت:184، جلد:1، صفحه:294۔

## ستاسو عمر څومره دے...؟

يو بزرګ وو، څه شپيته يا اويا کاله به د هغوئي عمر وو، چا ترينه پوښتنه اوکړه: ستاسو عمر څومره دے؟ اوئې فرمائيل: څلور کاله. پوښتنه کوونکے ډير حيران شو چې د سر او ګيرې ويښته يې سپين شوي دي، بوډا شوے دے او فرمائي چې زه د څلورو کالو يم. هغه نيک بنده اووئيل: هسې خو مې عمر زيات دے، البته د توبې او د **الله** پاک په لور د رُجُوع کولو مې څلور کاله اوشول. **د دې نه مخکښې ژوند مې فضول تير شوے دے، لهٰذا زه هغه په ژوند کښې هډو شمارمه نۀ.**

څومره ښکلې خبره ده، د لويو خلقو لوئې خبرې وي، خير! د وئيلو مقصد دا دے چې د توبې، د **الله** پاک په لور رُجوع، د زړۀ پاکول او د **الله** پاک د قرب په لور د تللو چې کوم ساعت دے، هغې ته **نشاۃِ ثانيه** وئيلے شي. په انسان باندې چې کله دا وخت راشي نو ❀په هغه باندې رحمت راوريږي ❀ د کرم او فضل دروازې ورته برسيره کيږي ❀د هغه د رُوحاني ترقئ وخت يې شروع شي ❀ کاميابي د هغه قدمونه ښکلوي ❀ د قربِ الٰهی په لور سفر يې شروع شي او انسان د دوزخ د لارې نه لرې شي او د جنّت په لار روان شي.

د **الله** پاک د نبي حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام فرمان دے: لَنْ يَلِجَ مَلَكُوْتِ السمٰوٰتِ مَنْ لَمْ يُوْلَدْ مَرَّتَيْن يعنې کوم بنده چې دوه ځله نه پيدا کيږي، هغه آسماني بادشاهت ته نشي داخليدے. [(1)]

غرض د انسان چې **نشاۃِ ثانيه** (يعنې د ژوند بيا د نوي سر نه د شروع کولو) کومه مرحله ده، ډيره اهمه وي، په دې باندې د ژوند اړخ بدليږي، په دې ساعت کښې په انسان کښې دننه بدلون شروع شي او علماء فرمائي: **روژه هغه عبادت دے، کومه چې د انسان نشاۃِ ثانيه (يعنې د نوي پاک ژوند شروع کيدو) سبب جوړيږي.** [(2)] ځکه په **حديثِ پاک** کښې

---

[1]... تفسیر روح البیان، پارہ:2، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:184، جلد:1، صفحہ:294۔

[2]... تفسیر روح البیان، پارہ:2، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:184، جلد:1، صفحہ:294۔

فرمائيلے شوي دي: اِنَّ لِكُلِّ شَیْءٍ بَابًا، وَاِنَّ بَابَ الْعِبَادَةِ الصِّیَامُ باب الْعِبَادَةِ الصِّیَامُ بے شکه د هر خيز دروازه وي او روژه د عبادت دروازه ده. (1)

روزہ درماں ہے پیاس اور بھوک کے امراض کا | خیبرِ تَن پروری کو توڑنا ہے بَرمَلا

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د روژې په برکت يې توبه نصيب شوه

حضرت شيخ ابو بکر شبلي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دريمې صدۍ هجرۍ د اوچتې مرتبې بزرګ دے، هغوئي د خپل ژوند ډيره عجيبه او د سبق نه ډکه واقعه بيانوي او فرمائي: يو ځل زه د قافلې سره شام ملک ته روان ووم، په لاره کښې ناڅاپه د ډاکوانو يوې ډلې زمونږه په قافله باندې حمله اوکړه او د قافلې والؤ سامان يې لوټ کړو او د خپل سردار مخې ته يې ډيرے کړو او د هغې لټول يې شروع کړو، د يو کَس د سامان نه د شَکَرو [يعني خوږو خيزونو] او د بادامو تيلۍ راووتله، ټولو ډاکوانو په شريکه خواږه او بادام خوړل خو د هغوئي سردار خواږه او بادام نه خوړل. شيخ ابو بکر شبلي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: زه حيران شوم او ما د ډاکوانو د سردار نه پوښتنه اوکړه: ټول خواږه او بادام خوري، تهٔ يې ولې نه خورې؟ هغه زه نور هم حيران کړم او اوئې وئيل: **زما روژه ده.**

ډيره د حيرانتيا خبره وه، يو خوا يې د خلقو حقونه وهل، د غريبانانو ښيرې يې اخستې او بل خوا يې د تقوىٰ او پرهيزګارۍ مظاهره کوله او روژه يې هم نيولې وه، شيخ ابو بکر شبلي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: ما د هغه نه پوښتنه اوکړه: تهٔ لوټ مار هم کوې او روژه هم نيسې؟ زما په دې پوښتنه سردار اووئيل: **د الله پاک سره د روغې جوړې د پاره خو هم څه لاره باقي پريښودل پکار ده.**

---

1 ... کتاب الزہد لابن مُبارَک، باب فضل ذکر اللہ، جز:11، صفحہ:395، حدیث:1423۔

حضرت شيخ ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دا خبره اوشوه او تيره شوه، څه موده پس زما مکے مکرمې ته د حاضرئ سعادت نصيب شو، ما د ډاکوانو هغه سردار هم هلته اوليدو، د هغه په مخ باندې د عبادت نُور وو، د مُجاهدو په وجه د هغه بدن کمزورے شوے وو او هغه اِحرام ترلے وو او د کعبے په طواف کښې مشغول وو. هغه چې مې په دې حالت کښې اوليدو نو زه يو ځل بيا حيران شوم، ما په حيرانتيا سره پوښتنه اوکړه: آيا تهٔ هغه کَس نه يې؟ اوئې وئيل: آؤ جي! **زه هُم هغه يم او واورئ! هم هغه روژې د الله پاک سره زما روغه اوکړه.** [1]

## په خپل ځان کښې بدلون راولئ!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** رَمَضَانُ الْمُبَارَك د **نشاةِ ثانيه** (يعني د نوي پاک ژوند موندلو) مياشت ده. اوس رَمَضَانُ الْمُبَارَك تشريف راوړي، مونږ له هم پکار دي چې په ځان کښې د څه بدلون کوشش اوکړو، چې د خپل ځان، د خپل زړهٔ، د خپل رُوح بيا د نوي سر نه د اِصلاح کولو کوشش اوکړو، مثلاً ❁ که تير ژوند مو په ګناهونو کښې تير شوے وي، چې اوس توبه کړو ❁ که مخکښې مو نمونځونه نه کول، چې اوس يې شروع کړو ❁ که مخکښې مو روژې نه نيولې نو دې کال له به د ټول رَمَضَانُ الْمُبَارَك روژې اونيسو ❁ که مخکښې مو د فلمونو ډرامو کتلو عادت وو، نو چې اوس يې پريږدو ❁ که مخکښې مو بدنګاهي کوله، چې اوس ترينه توبه اوکړو ❁ که مخکښې مو غيبت، چغلي وغيره ګناهونه کول، چې اوس ترينه منع شو ❁ که مخکښې مو د سود لين دين کولو چې اوس يې پريږدو، غرض دا چې که ژوند مو هر څنګه تيريدو خو اوس رَمَضَانُ الْمُبَارَك تشريف راوړي، د رمضان مياشت **نشاةِ ثانيه** (يعني د نوي پاک ژوند موندلو) مياشت ده، لهٰذا پکار

[1]...نہر کی صدائیں، صفحہ:7 تا8۔

ده چې د مخکښينو ګناهونو ژوند پريږدو او د نوي پاک ژوند په لور وړانديې لاړ شو!

لکه څنګه چې د نوي کال په راتلو مختلفې کارخانې د خپل نوي پروډکټ نوے ماډل راوباسي، اوس چې لکه څنګه کال 2024 شروع شو نو د موټر سائيکلو، موټرو، موبائلو وغيره کارخانو به خپل نوے ماډل لاؤنچ کړے وي، هم دغه شان زمونږه، زمونږه د خپل ذات هم خو څه نوے ورژن پکار دے، رَمَضَانُ الْمُبَارَك تشريف راوړو، چې خلقو ته پته اولګي چې ❀ دا بنده بے نمانځه وو، اوس نمونځ ګزاره شو ❀ مخکښې به يې دروغ وئيل، اوس رښتونے او ايماندار شوے دے ❀ مخکښې به په کوڅو کښې کښيناستو، خلق به يې تنګول، اوس د خلقو د حقونو خيال ساتي ❀ مخکښې به يې کمې نيکئ کولې، اوس ډيرې کوي. غرض دا چې مونږ کښې څه بدلون پکار دے. چې زمونږه د انداز نه، زمونږه د کردار نه، زمونږه د طور طريقو نه پته اولګي چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت راغلې ده.

## د رمضان مياشت د عامو ورځو نه مختلفه ساتئ!

صحابئ رسول حضرت جابِر بن عبد الله رضی اللہ عنہ فرمائي: لَا تَجْعَلْ يَوْمَ صَوْمِكَ وَيَوْمَ فِطْرِكَ سَوَاءً يعنې ستا د روژې ورځ او بے روژې ورځ، دا دواړه يو شان مه ساته! [1]

يعنې څه بدلون پکار دے، روژه بيله مياشت ده، د باقي ټولو مياشتو سرداره ده ❀خاص طور د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د پاره جنّت ښائسته کولے شي ❀ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په وړومبئ شپه د عرش د لاندې نه تازه هوا چليږي ❀ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د راتلو سره د جنّت دروازې برسيره کړے شي، د دوزخ دروازې بندې کړے شي ❀ شيطان قيد کړے شي. يعنې تر دې حده پورې په دې مياشت کښې بدلون راځي، بيا زمونږه په کردار کښې بدلون ولې نه راځي...؟ زمونږه د خبرو انداز ولې نه بدليږي؟ ❀ زمونږه په طور طريقو

---

[1] ...زہد لابن مُبارَک، باب ذم الریاء... الخ، صفحہ:160، حدیث:460۔

کښې بدلون ولې نه راځي؟ رَمَضَانُ الْمُبَارَك نشاةِ ثانیه (یعنې د نوي پاک ژوند موندلو) میاشت ده. لهٰذا چې کله رَمَضَانُ الْمُبَارَك تشریف راوړي نو زمونږه د کردار نه، زمونږه د خبرو نه پته لګیدل پکار دي چې رَمَضَانُ الْمُبَارَك تشریف راوړے دے.

## د رحمت نه محرومه پاتې کیدونکے بدبخته

د حضرت عُبَاده بن صامِت رضی اللہ عنہ نه روایت دے: یو ځل د رَمَضَانُ الْمُبَارَك میاشت راتلونکې وه، د **اللّٰه** پاک آخري نبي، مکي مَدَني صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم اوفرمائیل: تاسو ته د رمضان میاشت راغله ❀ دا د برکتونو والا میاشت ده ❀ **په دې مبارکه میاشت** کښې د **اللّٰه** پاک رحمتونه تاسو پټوي ❀ **په دې مبارکه میاشت** کښې ګناهونه ورانولے شي ❀**په دې مقدسه میاشت** کښې دعاګانې قبلیږي ❀ **په دې برکتي میاشت کښې اللّٰه** پاک ستاسو ذوق او شوق ته ګوري او **اللّٰه** پاک د فرښتو په وړاندې **په تاسو باندې فخر فرمائي** ❀پس د خپل ځان د طرف نه خیرونه (یعنې نیکۍ او ښه کارونه) د **اللّٰه** پاک په بارګاه کښې وړاندې کوئ! ❀ **بے شکه بد بخته دے هغه کَس څوک چې په دې میاشت کښې هم د رحمتِ اِلٰهٰی نه محرومه پاتې شي.** [(1)]

خُدا ایسی عنایت کر، میں کانپوں خوف سے تھر تھر

ہو عصیاں سے حفاظت ماہِ رَمضان آنے والا ہے

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## دوه اهمې خبرې

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دې **حدیثِ پاک** دوه جملې ډیرې اهمې دي: **(1):** ارشاد

---

[1]...مسند الشامیین للطبرانی، جلد:3، صفحہ:271، حدیث:2238۔

يـې اوفرمائيلو: يَنظُرُ اللهُ اِلٰی تَنَافُسِکُمۡ يعنې په دې مياشت کښې **الله** پاک ستاسو د نيکو په لور ستاسو رغبت، ذوق او شوق ته ګوري. (2):فَاَرُوا اللهَ مِنۡ اَنۡفُسِکُمۡ خَيۡرًا پس د خپل ځان د طرف نه خيرونه (يعني نيکۍ او ښه کارونه) د **الله** پاک په بارګاه کښې وړاندې کړئ!

يعني په دې مبارکه مياشت کښې په خصوصيت سره زمونږه ذوق او شوق ته کتلے شي، چې ❀ د رمضان مياشت خو درعطا کړے شوه، اوس ګوک دے چې په دې کښې خپله اِصلاح کوي ❀ د رمضان مياشت خو درعطا کړے شوه، اوس ګوک دے چې په دې کښې په ډير کثرت سره تلاوت کوي ❀ د رمضان مياشت خو درعطا کړے شوه، اوس ګوک دے چې په دې کښې د ګناهونو نه ځان ساتي ❀ د رمضان مياشت خو درعطا کړے شوه، اوس ګوک دے چې په دې کښې ډيرې نيکۍ کوي. غرض دا چې زمونږه دې شوق ته کتلے شي، د دې جائزه اخستے شي او مونږ ته د روژې په مياشت کښې دا شوق [په نيکو کولو] ښودل دي. څه پته! چې زمونږه دا شوق، دا ذوق، په رَمَضَانُ الۡمُبَارَك کښې زمونږه اِصلاح کيدل د **الله** پاک په بارګاه کښې قبول شي او زمونږه د بخښنې ذريعه جوړه شي.

## په رمضان کښې خپله اِصلاح کوونکے اوبخښلے شو

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! منقول دي: محمد نومې يو ګس به تول کال نـمونځ نه کولو. چې کله به د رَمَضَانُ الۡمُبَارَك شريف برکتي مياشت راغله نو هغه به پاکې جامې اغوستلې او پينځه واړه نـمونځونه به يـې په پابندۍ سره کول او تير قضا شوي نـمونځونه به يـې هم ادا کول. خلقو د هغه نه پوښتنه اوکړه: تهٔ داسې ولې کوې؟ هغه جواب ورکړو: دا مياشت د رحمت، برکت، توبې او بخښنې مياشت ده، کيدے شي چې **الله** پاک ما د دې عمل په وجه اوبخښي. چې کله هغه وفات شو نو چا په خوب کښې اوليدو او پوښتنه يـې ترينه اوکړه: مَافَعَلَ اللهُ بِكَ؟ يعني **الله** پاک ستا سره څه معامله اوکړه؟

هغه جواب ورکړو: زه **الله** پاک د رَمَضَانُ الْمُبَارَك شريف د احترام په وجه اوبخښلم. (1)

سُبۡحٰنَ الله! دا د **الله** پاک کرم دے، هغه رَبِّ قهار که عدل اوفرمائي نو په يوه ګناه [هُم بنده] راګير کړي او که فضل اوفرمائي نو صرف په يوه نيکۍ غټې ګناهونه اُوبخښي.

## يوه مياشت د اللّٰه د پاره...!!

بهر حال **خورو او محترمو اسلامي ورونړو!** د رمضان مياشت د خپلې اِصلاح مياشت ده. په دې کښې د خپلې اصلاح کولو پخه اراده اوکړئ! **په حديثِ پاک کښې دي:** سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **الله** پاک ستاسو د پاره يوولس مياشتې ساتلې دي، په دې کښې خورئ، څښئ، خوندونه اخلئ! **خو يوه مياشت يې د ځان د پاره خاص فرمائيلې ده** فَاتَّقُوۡا شَهۡرَ رَمضان فَاِنَّهٗ شَهۡرُ الله يعنې د روژې د مياشت نه اُويَريږئ! بے شکه دا د **الله** پاک مياشت ده. (2)

آگیا رَمضاں عبادت پر کمر اب باندھ لو　　فیض لے لو جلد یہ دن تیس کا مہمان ہے

بھائیو بہنو! کرو سب نیکیوں پر نیکیاں　　پڑ گئے دوزخ پہ تالے قید میں شیطان ہے (3)

## د ګناهونو نه پاک رَمَضَانُ الۡمُبَارَك

**خورو او محترمو اسلامي ورونړو!** د رمضان مياشت راتلونکې ده، د خپلې اِصلاح کولو مياشت راتلونکې ده، د روژې د مياشتې يو بنيادي مقصد تقویٰ حاصلول دي. لهٰذا ټوله د رمضان مياشت په تقویٰ او پرهيزګارۍ سره يعنې د ګناهونو نه د بچ کيدو سره د تيرولو نيت اوکړئ! دا پخه اراده اوکړئ چې **د روژې په ټوله مياشت کښې** (که د 29 ورځو وي او که د 30 ورځو

---

[1] ...دُرَّةُ النَّاصِحِين، صفحه:8۔

[2] ...شُعَبُ الۡاِيمان، باب فی الصیام، فصل فی فضائل شہر رَمضان، جلد:3، صفحه:312، حديث:3632۔

[3] ...وسائلِ بخشش، صفحه:705، 706 ملتقطاً۔

وي) زه به يوه ګناه هم نه کووم. حُضُور مُجَدِّد الف ثاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: [په چا] چې څنګه روژه تيريږي هم دغه شان [پرې] ټول کال تيريږي، چا ته چې د روژې په مياشت کښې استقامت نصيب شي، هغه ته ټول کال استقامت نصيب کيږي. (1)

سُبْحٰنَ الله! بس چې مونږه دا يوه مياشت د ګناهونو نه ځان ساتلو سره تيره کړو، نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! ژوند به مو ښه شي.

## د ګناهونو يو څو مثالونه

لهٰذا دا کال په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې خپل دا هدف اوټاکئ چې په دې کال به زه د روژې په مياشت کښې ګناه نه کووم ❀ نـمونځ پريښودل ګناه ده، يو نـمونځ به هم نه قضا کووم ❀ جُمعه پريښودل ګناه ده، لهٰذا يوه جُمعه به هم نه پريږدم ❀ د تراويح پريښودو عادت جوړول ګناه ده، لهٰذا ټوله مياشت به پوره شل، شل تراويح کووم ❀ روژه خوړل ګناه ده، لهٰذا صرف د زيارت او د جُمعې نهٔ، بلکې ټولې روژې به نيسم ❀ دروغ وئيل ګناه ده، لهٰذا د روژې په ټوله مياشت کښې به يو ځل هم دروغ نه وايم ❀ غيبت ګناه ده، د روژې په ټوله مياشت کښې به يو ځل هم غيبت نه کووم ❀ چغلي کول ګناه ده، د روژې په ټوله مياشت کښې به د چغلئ نه ځان ساتم ❀ بد نظر [يعنې غير محرمو زنانؤ وغيره ته کتل] ګناه ده، د روژې په ټوله مياشت کښې به د بد نظر نه ځان ساتم، په فيس بُک استعمالولو کښې به احتياط کووم، په يوټيوب کولاوهلو کښې به احتياط کووم، سوشل ميډيا د ګناهونو کور دے، د دې په استعمالولو کښې به د احتياط نه کار اخلم ❀ غوږونه به د ګناهونو نه بچ ساتم ❀ لاسونه به د ګناهونو نه بچ ساتم ❀ غرض دا چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په مياشت کښې به ټول بدن د ګناهونو نه بچ ساتم.

---

1... مکتوباتِ امام ربانی، دفتر اوّل، مکتوب:4، جلد:1، صفحہ:42۔

## د روژې په میاشت کښې د ګناه وَبال

❀ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوک چې په رمضان کښې د ګناه کار کوي، **الله** پاک د هغه د ټول کال اعمال ضائع کوي، بے شکه رمضان د **الله** پاک میاشت ده، لهٰذا په دې کښې د ګناه نه بچ اوسئ! [1] ❀ په یو **حدیث شریف** کښې ارشاد شوے دے: د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د بے حرمتئ نه ځان ساتئ! **بے شکه په دې کښې د نیکئ اهمیت زیاتولے شي، هم دغسې [په‌کښې] د ګناه (وبال) هم (زیاتولے شي).** [2]

## د ګناهونو نه د بچ کیدو فائدې

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د ګناهونو نه بچ کیدل ډیر ضروري هم دي او ډیر اعلیٰ کار هم دے. علمائے کرام فرمائي: **د نیکئ کولو په نسبت د ګناه نه بچ کیدل زیات ضروري دي.** [3] په قرآن او حدیث کښې د ګناهونو نه د بچ اوسیدو ډیرې دیني او دنیائي فائدې بیان شوې دي، مثلاً ❀کوم بنده چې د ګناهونو نه ځان ساتي، هغه ته د زړۀ سکون عطا کولے شي ❀کوم بنده چې د ګناهونو نه ځان ساتي، **الله** پاک د هغه غیبي مدد فرمائي ❀کوم بنده چې د ګناهونو نه ځان ساتي، د هغه په رزق کښې برکت عطا کولے شي ❀څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي، هغه ته د پریشانو نه نجات عطا کولے شي ❀څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي هغه ته حکمت او پوهه عطا کولے شي ❀ څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي هغه ته په هر میدان کښې کامیابي عطا کولے شي ❀ څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي د هغه په ژبه کښې اثر کیښودے شي ❀ څوک چې د ګناهونو نه

---

[1] ... معجم اوسط، جلد:2، صفحه:414، حدیث:3688۔

[2] ... معجم اوسط، جلد:3، صفحه:354، حدیث:4827۔

[3] ... تنبیه الغافلین، باب ماجاء في الذنوب، صفحه:211۔

ځان ساتي هغه ته په مخلوق کښې عزت عطا کولے شي ❁ څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي د هغه خاتمه به ښه وي ❁ څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي د هغه د پاره د باطِن دروازې برسيره کولے شي ❁ څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي د هغه دعاګانې قبلولے شي ❁ څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي هغه ته په عبادت کښې خوند عطا کولے شي ❁ څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي هغه ته د دوزخ د وور نه نجات ورکولے شي ❁ څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي هغه ته به د قيامت په ورځ په ښي لاس اعمال نامه ورکولے شي ❁ څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي د قيامت په ورځ به د هغه نه حساب په آسانه اخستے شي ❁ څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي، هغه ته به د جنّت عالي شان محلونه عطا کولے شي ❁ څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي هغه ته به د قيامت په ورځ د عرش سورے نصيب کيږي ❁ څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي هغه ته به د ايمان خوږ والے عطا کولے شي ❁ څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي د هغه په مخ کښې به نُور کيښودے شي ❁ څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي په هغه باندې رحمت راوريږي ❁ څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي هغه ته لوئي اَجر ورکولے شي ❁ څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي د هغه د پاره د دوو جنّتونو زيرے دے ❁ څوک چې د ګناهونو نه ځان ساتي هغه رسولِ ذيشان، محبوبِ رحمان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل خوږ دوست جوړوي ❁ او د ټولو نه زيات دا چې څوک د ګناهونو نه ځان ساتي هغه ته **الله** پاک د خپل قرب خوند، خپله رضا او د محبت لازوال دولت عطا کوي.

## د شرابي ځلمي په لږ وخت کښې اِصلاح اوشوه

علّامه ابن جَوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: يو عبادت کوونکے، نيک بزرګ وو، هغه تر څلويښتو کالو پورې (د بر اعظم افريقه د يو ملک) سوډان په يو غار کښې اوسيدو او عبادت يې کولو. هغه فرمائي: يو ځل زه په غار کښې دننه په عبادت کښې مشغول

ووم، په دې کښې يو ګس راغے، د هغه سره خوراک او شراب وو، (شايد هغه زه نه ووم ليدلے) او په يو کوټ کښې کښيناستو او خوراک يې شروع کړو، د خوراک نه پس چې کله هغه د شرابو لوښے راواخستو نو ما په تيز آواز د قرآنِ کريم دا آيت اولوستو:

| | |
|---|---|
| اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ (پاره:27، اَلْحَدِيد:16) | [مفهوم] ترجمۂ كنزُ الْعِرفان: آيا د ايمان والؤ د پاره لا هغه وخت نه دے راغلے چې د هغوئي زړونه د **اللّٰه** د ياد او د هغه حق د پاره تِيټ شي. |

هغه ځلمي اخوا ديخوا اوکتل، څوک يې اونه ليدو، هغه ځان ناغرضه کړو او د شرابو څښلو دپاره يې چې بيا څنګه لوښے راواخستو نو ما بيا هم هغه آيت تلاوت کړو:

| | |
|---|---|
| اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ (پاره:27، اَلْحَدِيد:16) | [مفهوم] ترجمۂ كنزُ الْعِرفان: آيا د ايمان والؤ د پاره لا هغه وخت نه دے راغلے چې د هغوئي زړونه د **اللّٰه** د ياد او د هغه حق د پاره تِيټ شي. |

په دې ځل د قرآنِ کريم دې الفاظو د هغه په زړۀ باندې پوره اثر اوکړو، د هغه د لاس نه شراب پريوتل، او په زوره يې اووئيل: بَلٰى وَ اللّٰهِ قَدْ آن ولې نه، په خدائے مې دې قسم وي! هغه وخت راغلے دے (چې زما زړۀ د رَبّ په ياد کښې تيټ شي). دا يې اووئيل او هغه د غار نه بهر اُووتو، زه هم په هغه پسې شاته شاته روان شوم، ما اوليدل چې هغه ژړل او روان وو او په تيز آواز يې هم دا وئيل: بَلٰى وَ اللّٰهِ قَدْ آن ولې نه، په خدائے مې دې قسم وي! هغه (يعنې د توبې) وخت راغلے دے. بزرګ فرمائي: زه هم په هغه پسې شاته شاته روان ووم. چې لږ مزل مو اوکړو نو مخکښې يو غټ تالاب وو، د **اللّٰه** پاک د ويرې د غلبې نه هغه ځلمي هم داسې په تالاب کښې قدم کيښودو (خو د **اللّٰه** پاک قدرت وو چې)

هغه د اوبو د پاسه روان وو او په آرام پرې تير شو. (1)

بوقتِ نزع سلامت رہے مرا ایماں | مجھے نصیب ہو توبہ ہے التجا یاربّ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!  صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ګناه کولو نقصانونه

خورو او محترمو اسلامي وروڼو! دا خو د ګناهونو نه د بچ کيدو انعامونه وو، اوس چې کوم بنده ګناه کوي، د هغه څه څه نقصانونه کيدے شي، هغه هم واورئ! علمائے کرام فرمائي: ❀د ګناه په وجه په رزق کښې کمے راځي ❀زړۀ او بدن کمزورے کيږي ❀عمر کميږي ❀ برکت ځي ❀ د ګناه په وجه قوتِ ارادي کمزورے کيږي ❀ ګناه د ذِلّت سبب ده ❀ ګناه د هلاکيدو په لور بوتلل کوي ❀ د ګناه په وجه عقل ته نقصان رَسي، د عقل نُور مړ کيږي ❀ د ګناهونو په وجه په زمکه کښې فساد جوړيږي ❀حيا ختميږي او بے حيائي زياتيږي ❀ د ګناه په وجه نعمت ځي او زحمت راځي. (2) ❀د مسلمانانو دويم خليفه، اَميرُ الْمُؤمِنين حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ فرمائي: ګناه اګر که يوه هم وي، د ځان سره لس بدئ راوړي: **(1): ګناه کوونکے اللّٰه پاک له غَضَب ورولي (2): ګناه کوونکے اِبليس** (يعنې شيطان) خوشحالوي **(3): ګناه کوونکے د جنّت** نه لرې کيږي او **(4): دوزخ ته نزدې** کيږي **(5): ګناه کوونکے** پخپله په خپل ځان باندې **ظلم کوي (6): ګناه کوونکے** خپل باطِن ناپاکه کوي **(7): ګناه کوونکے** اعمال ليکونکو فرښتو له تکليف ورکوي **(8): ګناه کوونکے** خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **غمژن کوي**

---

1 ...روح الارواح، الفصل الثانی عشر، صفحہ:79 بتغیر قلیل۔

2 ...جنتی زیور، صفحہ:143 بتغیر۔

**(9):** ګناه کوونکے زمکه او اسمان د ځان خِلاف ګواه جوړوي **(10):** ګناه کوونکے د انسانانو سره خيانت او د **اللّٰه** رَبُّ العالمين نافرماني کوي. [1]

## رښتونې پښه توبه اوکړئ!

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت تشريف راوړونکې ده، تقوىٰ ورکوونکې مياشت راتلونکې ده، د ځان د اِصلاح کولو مياشت راتلونکې ده، همت اوکړئ! د تيرو ګناهونو نه توبه کړئ او، پاک صفا شئ او د دې پاکې مياشتې هر کلے اوکړئ! **اللّٰه** پاک په قرآنِ کريم کښې ارشاد فرمائي:

وَّاَنِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْۤا اِلَيْهِ يُمَتِّعْكُمْ مَّتَاعًا حَسَنًا اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّيُؤْتِ كُلَّ ذِىْ فَضْلٍ فَضْلَهٗ ؕ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنِّىْۤ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيْرٍ ۝۳

(پاره:11،سورۂ هُوْد:3)

[مفهوم] ترجمۂ كنزُ الْعِرفان: او دا چې د خپل **رب** نه معافي غواړئ بيا د هغه طرف ته توبه اوکړئ نو هغه به تاسو ته د يوې مقررې نيتې پورې ډيره ښه فائده درکړي او هر فضيلت والا ته به خپل فضل ورعطا کړي او که تاسو مخ واړوئ نو زه په تاسو باندې د غټې ورځې د عذاب ويره لرم.

په تفسيرِ صراط لجنان کښې دي: په دې آيت کښې اوفرمائيلے شول چې نبئ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې خلقو ته حکم اوکړي چې اے خلقو! د خپلو تيرو ګناهونو معافي اوغواړئ او بيا د پاره د ګناه کولو نه توبه کړئ! چا چې د خپلو ګناهونو نه رښتونې توبه کړه او په اِخلاص سره د خپل **رَبّ** عبادت ګزار جوړ شو نو **اللّٰه** پاک به هغه ته زيات رزق او معاشي فراختيا عطا کړي او هغه به د امن او راحت والا ژوند تيروي، د هغه نه

---

1...بحر الدموع، الفصل الثانی، صفحہ:42۔

به الله پاک راضي شي. او څوک چې توبه نه کړي، په کُفر او ګناهونو باندې قائم اوسي نو هغه به د ويرې والا ژوند تيروي، په بيمارو کښې به اخته اوسي او هغه به د الله پاک د ناراضګۍ سره هم مخ کيږي، اګر که هغه ته په دُنيا کښې خوندونه هم ميلاو شي، بيا به هم په هغه عيش کښې هيڅ خير نه وي د کوم نه پس چې دوزخ وي. [1]

بڑی کوششیں کیں گناہ چھوڑنے کی | رہے آہ! ناکام ہم یااِلٰہی!
جو ناراض تُو ہو گیا تو کہیں کا | رہوں گا نہ تیری قسم یااِلٰہی!
مجھے سچی توبہ کی توفیق دیدے | پئے تاجدارِ حرم یااِلٰہی! [2]

## د غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه يو نصيحت

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك وړومبے تاريخ د حُضُورِ غوثِ پاک شيخ عبد القادِر جيلاني رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه د ولادت ورځ هم ده.

سُبۡحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے زمونږه د غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه ...!! هغوئي د ګناهونو نه بچ کيدونکے، په نيکو پسې نيکۍ کوونکے، د الله پاک خوږ او محبوب بنده وو. هغوئي په وړومبي رَمَضَانُ الْمُبَارَك دُنيا ته تشريف راوړے وو او مَاشَآءَ الله! د پيدا کيدو سره يې روژه اونيوله. راځئ چې د بيان په آخره کښې د حُضُورِ غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه يو نصيحت واورو:

حُضُورِ غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د الله پاک د نافرمانۍ نه د بچ کيدو پوره کوشش کوئ! د هغه دروازه په مضبوطۍ سره اونيسئ...!! (بے شکه) پينځه عبادتونه (يعني ايمان، نمونځ، روژه، حج، زکوٰة) ادا کول او ګناه پريښودل د ټولو نه عظيم، د ټولو کارونو نه زيات

---

1... تفسیر صراط الجنان، پارہ:11، سورۂ ھُود، زیرِ آیت:3، جلد:4، صفحہ:393۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ:110۔

د عزت والا او د **الله** پاک په نزد ډېر خوښ دي. [1]

**الله** پاک دې مونږه د ګناهونو نه بچ کړي او ښه په ډېرو نيکو کولو کښې دې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك تيرولو توفيق رانصيب کړي. کاش چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په برکت مونږه پاخه پاخه نيکان جوړ شو. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره مدني مذاکره

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اميرِ اهلسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اوسني وخت عظيم علمي اور روحاني شخصيت بلکې کامِل ولي دے، هغوئي د هر اتوار په شپه د ماسخُتن د نـمونځ نه پس مدني مذاکره کوي يعني د ټولې دنيا نه عاشقانِ رسول د تفسير، حديث، شريعت، طريقت وغيره په مختلفو موضوعاتو باندې پوښتنې کوي. دا مدني مذاکره عام طور د هر اتوار په شپه د ماسخُتن نمانځه نه پس او خاص د رمضان په مياشت کښې روزانه د مازديګر د نمانځه نه پس او د تراويح نه پس په مدني چينل باندې نيغ په نيغه (*Live*) ښودلے شي. **مدني مذاکره د عقيدې او د اعمالو د اصلاح بهترينه ذريعه ده:** ❁ اَلْحَمْدُلِلّٰه! اوسه پورې په سوونو کافرانو د مدني مذاکرې د کتلو په برکت کلمه وئيلې ده ❁ په لکونو بے نـمانځه نـمونځ ګزاره جوړ شوي دي ❁ د زرګونو زړونو اِصلاح شوې ده.

تاسو هم په مدني مذاکره کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! ❁ عِلمِ دين به حاصل کړئ ❁ د **الله** پاک محبت به درنصيب کيږي ❁ په عشقِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې به مو زياتوالے راځي ❁ د ګناهونو نه به نفرت درنصيب کيږي ❁ د نيکئ جذبه به ميلاويږي او ❁ په اخلاقو او کردار کښې به هم بهتري راځي.

---

[1] ... فتوح الغيب، المقالة الرابعة والعشرون... الخ، صفحه:44 ملتقطاً۔

ټول اِسلامي ورونړه هره هفته د ماسخُتن د نـمونځ نه پس په پابندۍ سره د مدني مذاکرې کتلو نیت اوکړئ! که غواړئ نو په کور کښې د خپل کور والؤ سره په مدني چینل باندې په مدني مذاکره کښې شرکت اوکړئ!

## د عِلم او حکمت نه ډکه مَدَني مذاکره

د پنجاب، پاکستان د واه کینټ (پنډۍ ضلعې) د یو ځلمي بیان دے: نـمونځونه قضا کول، فلمونه کتل او شیطان خوشحالول او سندرې سازونه وغیره اوریدل او مست اوسیدل زما معمول وو، آه! زه په سُنَّتو باندې د عمل کولو نه محرومه ووم، زما د ګناهونو نه په ډک ژوند کښې رڼائي څه داسې راغله چې یوه ورځ د دعوتِ اِسلامي د یو مبلغ سره زما ملاقات اوشو، هغه زه پوهه کړم او زما یـې په اجتماعي سُنَّت اعتکاف کښې د کښیناستو ذهن جوړ کړو، د هغه په ښکلي انداز کښې راکړے شوي د نیکۍ دعوت زما په زړۀ اثر اوکړو او زه په اجتماعي اعتکاف کښې شریک شوم، بیا زما شپې او ورځې په عبادت کښې تیریدلې، زړۀ راښکونکو بیانونو او ژړوونکو دعاګانو زما د زړۀ دُنیا بدله کړه، د کرم د پاسه کرم دا اوشو چې په اجتماعي اعتکاف کښې د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِیَه د مَدَني مذاکرې اوریدو سعادت رانصیب شو، د هغوئي د اثرناکو ارشاداتو نه زه دومره متاثر شوم چې ما فوراً د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه اوکړه او د نـمونځونو د پابندۍ اراده مې اوکړه، د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِیَه په ترغیب راکولو زه د اختر په شپه کور ته د تللو په ځائے د **الله** پاک د لارې مسافر جوړ شوم چرته چې د عِلمِ دِین د حاصلولو موقع په لاس راغله او د سُنَّتو د زده کولو سره سره په هغې باندې د عمل کولو جذبه هم رانصیب شوه.

مدنی مذاکرہ ہے شریعت کا خزینہ | اَخلاق کا، تہذیب کا، طریقت کا خزینہ

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## ”درود او سلام“ موبائل ایپلي کیشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي د سمارټ فون (**smartphone**) په ذریعه هم د عِلمِ دِین د عام کولو کوشش کوي. په دې باره کښې د دعوتِ اسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا مختلف ایپلي کیشنز جاري کړے شوي دي، په دې کښې یو ایپلي کیشن دے: درود او سلام (**Durood-o-Salam**) ❀ په دې درود او سلام ایپلي کیشن کښې درود شریف موجود دي کوم چې تاسو څه وخت هم لوستلے شئ یا دا د خپل موبائل په اَن لاک ټیون (**Unlock Tune**) باندې سیټ کولے شئ د کوم له وجې چې څنګه تاسو خپل فون کولاو کړئ دا به پخپله چلیږي ❀ دا سهولت هُم ورکړے شوے دے چې تاسو موبائل اَن لاک کړئ نو هغه درودِ پاک به ستاسو په موبائل سکرین باندې ښکاره شي د دې برکت به دا وي چې تاسو به وړومبے درودِ پاک لولئ بیا به موبائل استعمالوئ. نور دا چې په سکرین د ښکاره کیدونکي درودِ پاک فونټ هم په خپله خوښه سیټ کولے شئ ❀ درودِ پاک چې څومره ځل هم لوستلے شي د هغې شمیره به درج کیږي ❀ تاسو پخپله خوښه د درودِ پاک آواز (**volume**) ایډجسټ کولے شئ ❀ د دې د ټولو نه اهمه فائده دا ده چې مونږ ته به د ورځې د خپل درودِ پاک والا نیک عمل پوره کولو کښې مدد حاصلیږي. هُم نن دا ځانګړے ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې ډاؤن لوډ کړئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بیان په آخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د ځینو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت

اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي. (1)

هر کام شریعت کے مطابق میں کروں کاش! | یاربّ! تو مبلغ مجھے سُنّت کا بنادے (2)

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## ګيره پريښودل سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دي

**د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** بريتونه کټ کړئ او ګيرې پريږدئ د مجوسيانو مخالفت کوئ! (3)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ګيره پريښودل **سُنَّتِ مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلکه سُنَّتِ انبيا دي ❀ زمونږ د آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګيره مبارکه به هميشه د يو موټې برابر وه ❀ چې د يو موټې نه به غټيدله نو کموله به يې [يعنې يو مُوټے کوله به يې] ❀ د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګيره مبارکه په پلن والي کښې داسې وه چې سينه مبارکه به يې ډکوله. (4) ❀ زمونږه آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ګيره خَريل او بريت غټول نه خوښول ❀ په بهارِ شريت کښې دي: ګيره خريل يا د يو موټې نه کمول حرام دي. (5)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنه د **بهارِ شريعت** جلد نمبر 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 سنّتیں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه ذريعه د **دعوتِ**

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
2...وسائل بخشش، صفحہ:115۔
3...مسلم، کتابُ الطہارت، باب: خِصَالُ الْفِطْرَة، صفحہ:153، حدیث:257۔
4...انوارِ جمالِ مصطفٰے، صفحہ:157 خلاصۃً۔
5...بہارِ شریعت، حصہ:16، جلد:2، صفحہ:586۔

**اسلامي مَدَني قافلو** کښې عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

| | |
|---|---|
| سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو |
| رب کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں | بابِ رحمت کھلیں، قافلے میں چلو |

**اللّٰه** پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعے او زیارت مینځنئ شپه باندې) دا دُرُود شریف پابندئ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

---

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

حضرتِ سيِّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللہ عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾د شپږ لا كه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لا كو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہ عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہ عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رضی اللہ عنہ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو

---

1 ...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2 ...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلې نو داسے ئې لوَلې.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[4] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰

3... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث:۱۷۳۰۵

4... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۵۵/۱۹، حديث:۴۴۱۵